# د خان عبدالصمدخان صاحب بیان (تیر پسې)

## اقرار

دریم قسط

د بلوچستان رښتونے محب وطن او لوئې قومي مشر خان عبدالصمدخان صاحب اچکزي دا تاریخي بیان د خپلې مقدمې په دوران کښې لیکلے د هغه ځائې عدالت ته ورکړے دے. د پښتون لوستونکو ته به معلومه وي چې په خان موصوف باندې مقدمه د هغه تقریر په بنا چلیدلې وه کوم چې هغه د سیوئ په یوه جلسه کښې کړے ؤ. او دا جلسه د فخرافغان د تشریف راوړلو په موقعه شوې وه. دا دې هم معلومه وي چې د خان موصوف په گرفتارۍ باندې د بلوچستان په ځلمو کښې ډېره لویه جذبه پېدا شوې ده.

(اداره)

زۀ اقرار کوم چې د استغاثې دا وئیل چې ما په حیدرآباد کښې تقریر کړے دے. په کراچۍ کښې مې تقریر کړے دے. یا څومره اخباري مضمونونه چې پېش شوي دي زما د قلم نه وتي دي. واقعي چې دا اول ما کړې دي. دومره ده چې د استغاثې د گواهانو د ټولو کمزورو سره (چې زۀ به په هغې کښې مخ کښې څهووایم) زۀ دلته اقرار کوم چې ما د دې مضمونونو یو یو لفظ لیکلے دے. او د دې تقریرونو یو یو حرف ما وئیلے دے. ما په دې مضمونونو او تقریرونو کښې بلکل رښتیني واقعات لیکلي او وئیلي دي. او دا هغه واقعات دي چې د بلوچستان د حکومت په بې شماره نقصونو کښې صرف یو څو دي.

ما بې شکه چې د بلوچستان حکومت ته ناکاره او د اصلاح قابل وئیلے دے بلکې د دې موقعو نه بغېر چې ما د څه وخت نه هوش سنبال کړے دے نو په بې شمېره موقعو کښې ما د حکومت په مظالمو بحث کړے دے. او ما د هغه د ظلمونو نه د پردې اوچتولو ښه کوشش کړے دے او بیا خاص د تېر شوو پینځه کالو نه خو ما په کور کښې بلوچستان کښې په هندوستان کښې د رعیت سره د سرکاري حاکمانو سره د اسمبلو او

مـرکـزي حـکومت د ممبرانو سره او د اخبارونو او پـلیټ فـارمونو په ذریعه چرته چې زما وس شوے دے مـا هـم په دې مسئله رڼا غورځولې ده. ما چې څومره په دې حقیقت خبرې کړې دي یا مې لیکلې دي شایـد چې د دنیـا پـه څـه بـله خبره ما د دې په لسمه بلکې په سلمه حصه هم څه وئیلي دي یا مې لیکلي دي.

داسې حـکـومـت تـه چې د هـغه په زمانه کښې د رعیت د یو جائز آواز د بندولو دومره شوق او موقعې دي چې کۀ چرې د ,,ګلستان،، یو سړے د خپـل کـلـي پـه یـو جماعت کښې صرف د قرآن پـاک د جـمـعې اورولـو څـه تـحـریک کوي نو سپـرنټـنډنټ د پـولیـس فوراً موقعې ته رسي. د کـلـي خلق درې ورځې پرله پسې تانې ته غواړي. او د هـغـوي بیـانـونـه قـلم بند کوي. او د هر قسم ویـرولـو او کـوض ورکولو هغوي ته هدایت کوي. چې خبـــردار! چې بیـا داسې کـار ونۀ کړئ چې پـه جماعت کښې دې یو سړے د قران ترجمې کوي او تـاسـو دې هـغه اورئ داسې حکومت چې د هغه په زمـانـه کښې په یو اخبار کښې د یو جائز مضمون خـوربدو په غرض یو ځلمي نواب زاده ته د یو زرو روپـو جرمانې او د دوه کاله قید سزا ورکېدے شي او چې د هـغـه پـه زمانه کښې د سرحد نه د بهر څو مجرمانو د افعالو په سبب د اچکزي قوم د مختلفو قبیـلـو نـه بـغېر د لحاظ د یتیم او کنډې نه د نهو زرو روپـو درونـد رقـم وصولېږي. او چې د یو څو مـجـرمـانـو د یوې پرامن قبیلې د کلي نه یو میل لـرې مـحـض د تېـرېـدلو په ګناه د کلي د خلقو نه بـغېـر د لـحاظ د امیر او غریب په مختلفو طریقو جـرمـانې وصولېږي او د نۀ ورکولو په صورت بې ګـنـاه خـلـق په جېلخانو دننه ننویستے شي په دې شـلـمـه صـدۍ کښې چې د تمام مخ د زمکې نه د غـلامۍ او مـریانو خرڅولو لغتي رسم ورک کړے شوے دے مګر دلته د اقرارنامو په شکل د بعضې کسـانـو دا غیـر قـدرتي حق منلے شوے دے. چې هـغـه وینځې او مریان ساتلے شي. داسې حکومت چې د هـغه په زمانه کښې د زرګونو زنانۀ عصمت صـرف پـه دې وجـه د خپـلـو نـائیکانو په مرضۍ مـوقـوف وي چې هـغـه د هغو وینځې دي. پـه دې ختـم نۀ ده بـلـکې د مسـلـمانانو وینځو بللو شوۀ عـصـمتـونه د غیر مذهبو مالکانو دپاره روا خیال کېدے شي. او چې د هغه په وخت د حکومت کښې د سـرکـاري افسـرانو د دورو،ښکارونو او مختلفو سیـلـونـو پـه مـوقـعـه د پکټ پـه شکل د غریبو زمیـنـدارو نـه بیګـار اخستل عام دستور دے. او چې د هغه د حکومت په زمانه کښې د یو بد نصیب زمیـنـدار دا اهـم فـرض وي چې هغه په خپله هغه زمـکـه کښې چې د هـغـه د اوسېـدو د ځـائې له په میـلـونـو لرې وي د تار د ستنو او په هغې باندې د تیـر شـوۀ تـارونو حفاظت کوي. او کۀ چرې څوک دغـه تـارونو او ستنو ته نقصان ورسوي سره د دې چې هـغه سړے به معلوم هم وي چې فلانے ئې نوم دے د فـلانـي کـلـي دے نو هم به تاوان دغه غریب زمیندار ادا کوي.

او چې د هغه په زمانه کښې په جېلخانه کښې دننه قيديان د بهر اوسېدونکو خلقو د افعالو ذمه وار وګرځولے شي په هغو باقاعده مقدمې چلېږي او سزا ورکېدے شي. او چې د هغه په زمانه کښې په ملک کښې د يو قانون په ځائې د هرې مقدمې دپاره نوے نوے قانون استعمالېږي. او چې هلته رسم و رواج هم د قانون په ځائې استعمالېږي. او چې د هغه په زمانه کښې د عدالت نوم جرګه وي داسې جرګه چې د هغې ممبران نه د پنچائيت په اصولو خوښ کړے شوي وي او نۀ د عدالت په اصولو د کواليفائيډ په متعلقه امتحان کښې پاس شوې وي بلکې محض د علاقې د افسرانو سره تعلقات پېدا کول د جرګې د ممبرئ اهليت وي.

او چې د ممبرانو د رهنمائۍ دپاره نۀ څه قاعده وي بلکې قانون نوم وي. د هغوي د ساعت په ساعت بدليدونکو خيالاتو او چې د ثبوت د شهادت دپاره د پوليس د يو مخبر ګواهي د يو سنګين جرم دپاره کافي خيال کيدے شي. او کۀ چرې څوک د نوم دپاره ګواه پېدا هم شي نو د ثبوت دپاره د کاني نه زيات خيال کېدے شي. ډېر ځله د داسې نا مکمل ثبوت په بنا بعضې بې ګناه ملزمان د سنګينې سزا ښکار کېږي اکثر د هغې دا نتيجه شي چې په ملک کښې د سرحدي جګړو صورت اختيار کړي. او د نورو ډېرو جرمونو سبب جوړ شي.

کوم ځائې چې دغه د نوم دپاره ججانو ته څه د خدمت معاوضه نۀ شي ورکېدے. کوم ځائې چې حکومت زنانه د نورو څيزونو په شان د نارينو ملکيت ګڼي. کوم ځائې چې حکومت کنډې ښځې د مړۀ شوو خاوندانو د ميراث مال ګڼي. زما د سترګو په وړاندې څو ورځې اول په دې عدالت کښې يوه فېصله واورېدے شوه هغه داسې وه چې يوې کنډې ښځې ته د مړ شوي خاوند وارثانو د خاوند کولو دپاره اختيار ورکړے ؤ. مګر د هغې رور دعوه وکړه او د هغې د خاوند نه ئې دوباره د نکاح په عرض روپۍ وصول کړې. مطلب ئې دا شو چې يوه ښځه په هيڅ حال کښې د خپلې مرضۍ مالکه کېدے نۀ شي. کۀ چرې يو جائز وارث هغه آزاده هم پرېږدي نو د دې ځائې حکومت د هغې د وړومبي وارث حق دوباره تسليموي. او هغه د دې په آزادۍ کښې دخل کولے شي تر دې چې ښځه د نور ضروري سامان په شان خرڅولے شي.

د کوم حکومت د لاندې چې د تمامې صوبې اوسېدونکي د نوي تهذيب په سبب د ټولو نه د شهرت د لوئې ذريعې يعنې د اخبار د اجراء نه محروم وي. د کوم حکومت په زمانه کښې چې يو لوئې مذهبي پېشوا د مذهب د زده کولو نه منع کېدے شي. کوم حکومت چې په جيلخانه کښې په ضروري طور باندې قيديان په خپل خوراک کولو مجبورېدے شي. او چې د هغه د حکومت په زمانه کښې د کوټې غونډې يخ ځائې په تاڼو کښې قيديانو ته د اور بلولو دپاره خاشاک او د

بسترې دپاره ګرمې جامې نۀ شي ورکېدے. نو کۀ داسې حکومت ته زۀ خراب قابل د اصلاح نامناسب او د زړې زمانې يو ناکاره طريقه د حکومت ونۀ وايم نو آخر څه به ور ته وايم؟ ولې دۀ ته ښه موزون اصلاح شوے. او نوے ووايم. زۀ تور ته سپين نۀ شم وئيلے. ما ته زما مذهب، زما ضمير،زما د قوم تاريخ او د رښتياؤ جذبه دا وائي چې زۀ دې تور ته تور وايم. د نرم نه نرم لفظونه کوم چې زما په علم کښې دي يا زما غوږونو اورېدلې دي هغه هم دا دي کوم چې زۀ اوس وايم.

چې دا حکومت خراب دے. د اصلاح قابل دے. او ناموزون دے. د ښې نه ښه. او د مناسب نه مناسب فقره چې د دې حکومت په حق کښې زۀ وئيلے شم هغه هم دا ده چې سم دې کړے شي. او د صحيح نه صحيح پېشين ګوئي چې د دې حکومت په حق کښې زۀ کولے شم. هغه دا ده چې يا به سم کړے شي يا به وران کړے شي.

ما دا وئيلي دي او دا وايم بلکې تر څو چې زما په خوله کښې ژبه او په ژبه کښې مې د خبرو طاقت وي هم دا به وايم. انکار تر دې ځايه خو زما اقرار ؤ. اوس زۀ انکار کوم د څۀ څيز نه؟ د استغاثې د دې خبرو نه چې ما دا خبرې د نفرت خورولو په غرض کړې دي. او ما ليکلي دي يا د دې نه نفرت خور شوے دے. يا د نفرت خورېدو ويره ده. زما عقيده ځکه چې زما دا عقيده ده چې زۀ محبت،صداقت،جرات،قرباني او د عدم تشدد په ذريعه د خپل مذهب وطن او د خدائے د مخلوق خدمت کول غواړم.

ډېره ناکاره ګناه. په دې وجه زما په نزد دروغ،نفرت او فريب چې په هغې کښې د هر قسم د خودغرضۍ بې ايمانۍ کوششونه شامل وي. ډېره ناکاره ګناه ګڼم. د دې نه پس تشدد هم يوه ګناه ګڼم. لېکن دا ګناه په دويمه درجه کښې ده. ولې چې په بعضې حالاتو کښې زۀ تشدد جائز نۀ بلکې ضروري ګڼم. البته زۀ د خپل ځان د فائدې يا نقصان دپاره يو ماشي ته آزار ورکول هم ګناه ګڼم. لېکن د خدائے پاک په فضل د هغه قائم کړي انسانيت د حدونو د قيام دپاره کوم چې د عام امن او د مذهب د آزادۍ سره برابر دے. د تمام جاندارو قتل کۀ ضروري شي نو ګناه ئې نۀ ګڼم. زما امېد دے او زۀ د خدائے نه توفيق غواړم چې په وخت راتللو باندې به زۀ خپل د خوږ نه خوږ څيز يعنې سر،تمام خپلوان تر دې چې خپل سکه ورور عزتمنده مور او ماشومه لور د هغه په مرضۍ قربان کړم. شايد چې ما داسې نۀ وے کړے مګر چونکې زۀ مسلمان يم. او د يو مسلمان د هر څيز متعلق خدائے پاک په خپله فېصله کړې ده. چې هغه او د هغه مال الله د خپلې مرضۍ په عرض کښې اخستے دے. په دې وجه زما متعلق دا خبره چې ما د نفرت خورولو کوشش کړے دے. صفا بهتان دے. ما تر دې وخته د دې حکومت نه نفرت نۀ دے کړے بلکې زۀ خو به په بعضې معمولي تبديلو هم د دۀ مشکور يم. ما د خپلو مقصدونو او د هغې د حاصلېدو د ذريعو متعلق ,,مستهر

وینګیټ،، پولټیکل ایجنټ د کوئټې سره خبرې وکړې. هغه ښه مطمئن شو مګر دې صاف ویونکي سړي ماته صفا ووې چې د هندوستان د عام سوال د فیصلې پورې حکومت هیڅ یو تحریک ته په بلوچستان کښې د جاري کېدو اجازت نۀ شي ورکولے. چې د هغې مطلب دا ؤ چې د مخکښې راتلونکي اصلاحاتو په موقعه دې بلوچستان په خپله برخه صبر وکړي. او دا بلکل ممکنه نۀ ده ,,مستهرویکم،، د یو ملاقات په دوران کښې دا صفا ومنله چې ستا او د حکومت په مقاصدو بلکې د کار په طریقه کښې هیڅ فرق نشته. اوس زۀ هم هغه یم او حکومت هم هغه دے او کۀ څه فرق راغلے دے نو یقیناً په دواړو کښې راغلے دے.

د بلوچستان د اصلاحاتو متعلق ممکنه ده چې د حکومت دا خیال وي چې په راتلونکي اصلاحاتو کښې بلوچستان ته هیڅ حصه ورکول نۀ دي پکار. چې دا زما د خیال بلکل مخالفه خبره ده. زۀ او زما جماعت غواړي چې مونږ ته په مخکښې راتلونکي اصلاحاتو کښې د نورو صوبو د هندوستان سره برابره حصه راکېدل پکار دي. د دې نه دا مطلب نۀ دے چې زۀ د حکومت نه نفرت کوم یا د نفرت خوررولو کوشش کوم.

دا دے زما د انکار اول جز یعنې دا چې زۀ د حکومت نه نفرت نۀ کوم او ما د بې اتفاقۍ پیدا کولو کوشش نۀ دے کړے. باقي پاتې شوه دا خبره چې اګرچې ما نۀ ده کړې مګر زما تقریرونو او مضمونونو نفرت خور کړے دے نو د دې نه هم انکار کوم ځکه چې ما ته په خپل ملک باندې د خپلو مضمونونو د اثر ښه علم دے. د تقریرونو متعلق خو زۀ وینم ما د نورو ځایونو هغه جلسې هم لیدلې دي کوم ځائې چې نفرت خورېږي یا خورېدے شي. ما د هغوي د ,,شرم،شرم،، او ,,برطانیه برباد،، نعرې هم اورېدلې دي. ما هغه جوش هم لیدلے دے کوم چې د یو نظم په لوستو سره او یو یو تقریر کېدو سره په خلقو کښې پیدا شوے دے. او د هغوي په مقابله کښې ما هغه جلسې هم لیدلې دي چې په کومو کښې زما تقریرونه شوي دي او د هغوي په آرام کښېناستل مې هم لیدلي دي.

زۀ پوهېږم چې د بلوچستان جوشیانو ځلمو د صبر او آرام د تعلیم ډېر ضرورت دے. د دې جلسو دا اثر ضرور شوے دے چې د بلوچستان د اوسېدونکو سره د خلقو همدردي پیدا شوې ده څنګه چې د کراچۍ د جلسې د یو تجویز نه معلومېږي کۀ چرې هلته نفرت خور شوے دے نو د بلوچستان د حکومت برخلاف به د نفرت یو تجویز منظور شوے وے نۀ چې صرف د همدردۍ تجویز. په دې وجه زما یقین دے چې نۀ زما د تقریرونو نه او نۀ زما د مضمونونو نه نفرت خور شوے دے او نۀ خورېدے شي. کۀ چرې ما ته یقین وشي چې زما د څه حرکت نه د حکومت یا د چا یو کس برخلاف نفرت خورېدونکے دے نو زۀ به د کفارې دپاره شاید چې تمام عمر په خپله رضا د هغه تحریک نه واپس شم هغه تقریر یا تحریر کۀ زما یو مذهبي فرض هم وي.